سلطان جان کلیوال ۲۰۲۰/۰۲/۰۳

# په بلا مین

هم په تا، هم دی ښکلا باندی مین یم
ته خو نـه یی، خو زه تا باندی مین یم

چی پناه می یی، له سترګو ژاړم ژاړم
بی له تا می، په ژړا باندی مین یم

مینـه سـتـا، لکه بـلا ده زوره وره
زه سـاده، پـه دی بـلا بانـدی مین یم

له خوږو می، ده مسکا د شونډوخوښه
راتـه خانده، ستا خندا باندی مین یم

زما ښـکلې، په تا ښـکلي می دنیا ده
زه په دی، ښکلي دنیا باندی مین یم

ستا په سترګو، کې زما مینه غړېږي

"کلـیـوال" یـم، په وفا باندې مین یم

جنوری/۳۱/۲۰۲۰

ایجکس ـ تورنتو ـ کاناډا

**** **** ****

یادونه:

که چیرې ګران لوستونکي و غواړي چې د دې شاعر او لیکوال نورې لیکنې او سرودونو هم ولولي، نو کولای سی چې، پر انځور باندې د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکي مقالې او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړي!

**پـه بـلا مـیـن**

**S_klewal_pa_balaa_layen.pdf**